ډاکټر عبدالرحمن زمانی

# دمطبوعاتو لومړنې قانون او لومړنۍ مطبوعاتي محاکمه

(دهیواد د خپلواکۍ د ګټلو د ۹۷یمي کلیزې په مناسبت)

د غازي امان الله خان لومړنۍ لاسته راوړنې او ستر سیاسي بریالیتوبونه دخپلواکۍ ګټل او نړیوالو ته د هغې ورپیژندل وو. تر هغې وروسته داماني نهضت ستر اهداف د ملي یووالي او وحدت تامین او د هیواد ترقي او پرمختګ و. له همدې امله پراخه سیاسي، اداري، اقتصادي، نظامي، کلتوري او ټولنیز اصلاحات پیل شول .

د پښتو ژبې د وتلي معاصر شاعر، ښاغلي جهاني په وینا، «د افغانستان په تاریخ کې به هیڅ مشر په دغه اندازه له خپل اولس او د هغه له ترقۍ سره دونه ژوره، صمیمانه او صادقانه لیونۍ مینه نه وي ښودلي. د افغان اولس د نیکمرغه کولو، عصري کولو او پرمخ بیولو سره د امان الله خان مینه د یوه پاچا مینه نه، بلکې د یوه شاعر، هنرمند او نقاش مینه وه، چې زیاتره په احساس افاده کیدله، خو لکه څرنګه چې بیده اولسونه د خپلو هنرمندانو او شاعرانو د احساس په ژبه ډیر ناوخته پوهیږي، دغه راز د خپل دې وطن پالونکي پاچا په نیکو احساساتو او سپیڅلې مینې هم هغه وخت وپوهیدل ، او هغه وخت یې دارمان او افسوس اوښکې پسې تویولې، چې هغه ددوی او د خپل ګران هیواد له تودې غیږې څخه، چې ده د جنون تر سرحده مینه ورسره درلودله، ډیر لرې تللی و او نور یې د بیرته راستنیدو امکان موجود نه و. هغه په ژوند د خپل اولس دپاره مړ شوی و او هغه ژبې، چې دده په یاد وګړیدلې، وار په وار غوڅې شوې ». 1

غازي امان الله خان ویل چې «د خداې په مرسته او مرحمت به ستاسې حکومت داسې اصلاحات تجویز کړي چې د حکومت او خلکو دپاره ګټور وي، ترڅو د افغانستان ملت او حکومت په پرمختللې نړۍ کې شهرت او نوم او نښان وګټي، او د نړۍ د متمدنو هیوادونو په لیکه کې مناسب موقف او موقعیت تر لاسه کړي ».

د اماني نهضت اصلاحات، د هیواد د پرمختګ دپاره د مشروطه غوښتونکو هیوادپالو د آرمانونو عملي کول وو، او په دغه برخه کې کلتوري او ټولنیزو اصلاحاتو خاص مقام درلود . پدې ترڅ کې ښوونې او روزنې ته ځانګړې توجه وشوه .

## د عصري ښوونې او معارف پیل او پراختیا

د غازي امان الله خان په واکمنۍ کې د لومړي ځل دپاره لومړنۍ زده کړې وړیا او اجباري شوی . د ښوونکو تربیې ته پاملرنه وشوه او دارالمعلمین ته وده ورکړل شوه. د نورو هیوادونو سره کلتوري اړیکي ټینګ شول، او دښوونځیو دپاره خارجي پروفیسران راوبلل شول .

د اماني او امانیه لیسو، د هرات د دارالمعلمین، د قندهار، مشرقی، بلخ، هرات، پکتیا او قطغن د رشدیه ښونځیو، د تلګراف، رسامی، نجاری، معماری، زراعت، دارالعلوم، مستوراتو، حربي او پولیسو، موزیک، غالۍ اوبدلو، تدبیر منزل او طبیه مسلکي ښوونځیو په ګډون په ولایاتو کې د ۳۲۳ ښوونځیو جوړول، تر اویا زرو (۷۰۰۰۰) زیات زده کوونکي، اوه سوه پنځوس (۷۵۰) ښوونکي، د تالیف او ترجمې د ټولنو جوړول، د ۱۳۲ عنوانه درسي کتابونو خپرول، او د علمي کدرونو د روزنې په موخه د لوړو زده کړو دپاره ترکیې، جرمني، ایټالیا، فرانسې او شوروي اتحاد ته د محصلینو استول د دغه دورې روښانه لاسته راوړنې دي .

## د مطبوعاتو لومړنې قانون

---

1. غازی امان الله خان دافغانستان د خپلواکۍ ستوری، ۱۸۳ مخ .

www.goftaman.com

غازي امان الله خان ډېره هڅه کوله چې په هیواد کې د قانون حاکمیت منځ ته راشـــي . له همدې امله یې د ژوندانه د ټولو ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري چارو په هکله نظامنامې او قوانین منځ ته راوړل . په دغه لړ کې په هیواد کې د لومړي ځل دپاره د مطبوعاتو داسې نظامنامه یا قانون جوړ شـو، چې د مطبوعاتو او وینا آزادي یې تضمین کوله، او په ایشیا او شاوخوا هیوادونو کې یې ساري نه درلود.

ځرنګه چې د مطبوعاتو آزادي د دیموکراسۍ څلورم اصـل ګڼل کیري، نو په اماني دورې کې ورته خاصـه توجه وشوه ، او یوه ستره مرکزي کتابخانه هم جوړه شوه .




## د اماني دورې نشرات

په اماني دورې کې په مرکز او ولایاتو کې تر  درویشـــتو  (۲۳) زیاتې ورځپاڼې، اونیزې او مجلې خپریـدلې .  آزادې خپرونې ددې دورې یوه خاصـه ځانګړتیا وه. په هیواد کې د لومړي ځل دپاره آزادو او غیر دولتي خپرونو تـه اجـازه ورکړ شــوه .  د اروابښـــاد محی الدین انیس تر مســئولیت لاندې  د انیس ورځپاڼه د هیواد د مطبوعاتو په تاریخ کې لومړنۍ آزاده او غیر دولتي خپرونه وه . دا خپرونه وروسته د محمد نادرشاه د واکمنۍ په وخت کې دولتي شــوه او لاتر اوســه هم په کابل کې خپریږي .پر انیس سربیره د نسیم سحر او نوروز په نامه آزادو جریدو هم خپرونې پیل کړې .

په نورو خپرونو کې د امـان افغـان، ابلـاغ، حقیقـت، او اتحـاد مشـــرقي، نیلاب ، افغان ، اتحاد و ابلاغ ، اتحاد، آیینه عرفان، غازی ، آواز، اتحاد اســـلام، بیدار او پشـــتون ژغ خپرونې هم شـاملې وي . په ولایاتو کې هم  اونیزو په خپریدو پیل وکړ. په پکتیا کې غازي، په هرات کې اتفاق اسلام، په پروان کې ستارهٔ افغان، په قطغن کې اصـــلاح، په قندهار کې طلوع افغان او نورو خپرونو نومونه یادولې شـو . د ښځو دپاره هم د ارشـاد النسـوان په نامه اونیزې خپرونې پیل کړی، چې د خپرولو چارې یې د اروابښاد محمود طرزي میرمنې پر مخ بیولې .

د اماني دورې په نشـراتو کې مسـلکې خپرونې هم شـاملې وي، لکه د ښـوونې دپاره د معرف معارف، د اردو دپاره مجموعهٔ عسکري، د روغتیا دپاره مجموعهٔ صحی، د اقتصاد دپاره ثروت، د کرهنې دپاره زراعت [2].

د لومړي ځل دپاره په مرکز کې یوه کوچنۍ راډیو، او په لویو ولایتونو کې د معارف مطبعې فعالې شـوې او د خارجي کتابونو د ژباړې دپاره د دارالترجمو جوړول هم د هیواد ددغـه طلائی دورې هغـه هڅې وي چې د عصري معارف او کلتوري او ادبي اثارو د تخلیق دپاره ترسره کیدی .

## دبیان د آزادۍ او لومړنۍ مطبوعاتي محاکمې داستان

دلته د محترمو لوستونکو د معلوماتو دپاره  د افغانستان د تاریخ هغې لومړنۍ مطبوعاتې محاکمې ته اشاره کوم، چې هم داماني دورې د مطبوعاتو د آزادۍ ځرګندویه ده، او هم د هغه وخت په مطبوعاتو کې د قانون د پلې کولو ننبه .

---

- [2] . بازنگری دورهٔ امانی و توطئه های انگلیس ( ۵۵۶-۵۵۷) مخونه

د غازي امان الله خان دواکمنۍ په دوره کې د ۱۳۰۷ کال د حمل د میاشتې په ۲۳ نېټه د پولیسو د څانګې لخوا د انیس یوه ګڼه مصـــادره او د خپرونې دفتر څکه وتړل شـــو چې د «پاســـبان بیدار خواب» یا «دزدان چراغ بدست» تر عنوان لاندې د «س . دین» په نامه یوه لیکوال یو لیک یې خپور کړې وو.

دوه ورځې وروسته هم د پولیسو د یوه مامور «مدد خان» د عریضې په اساس د خپرونې مؤسس اوناشر، غلام محی الدین انیس هم محکمې ته وغوښتل شو. مدد خان ادعا کړې وه چې په خپور شوي مضمون کې په کار کې د هغه غفلت ته ګوته نیول شوې او پدې توګه یې توهین او سپکاوې شوې دئ .

پدې وخت کې غازی امان الله خان په کابل کې نه وو او د ســـلطنت د مقام وکیل محمد ولی خان دروازی وو. ویل کیږي چې هغه خپله محکمې ته تللې او دا جریان یې له نږدې څخه څاره .

"پاسبان بیدار خواب" چې د خونخوارو غلو او سیمې د سرخ پوشه قماربازانو د شرارت څخه "حضور واهب العطیات" ته پناه غوښـــتلې وه، د انیس خپرونې ته په خپل لیک کې لیکلي وو چې « خدایه ! پروردګاره ! ته خپله پوهیږي چې د کابل دتوپچي باغ سیمه ظالمو غلو او جوارګرو تر بمبارۍ لاندې نیولې او اوسیدونکي یې تر تباه کوونکو حملو لاندې راوستلي، د ورځې لخوا .... او دشپې لخو د هغو خوارانو مالونه او شیان لوټوي ...».

ددغه لیک په خپریدو د سیمې د پولیسو مامور څکه شکایت وکړ چې د سیمې د پولیسو د جامو رنګ هم سور وو. خو د محی الدین منطقي او په اسنادو ولاړ ې دفاعیې د قاضی او منصفه هیئت قناعت حاصل او نشریې بیا په خپریدو پیل وکړ.

محی الدین انیس، په داسې حال کې چې ګڼ شمیر خلک ددغه بې سارى محکمې اوریدو ته حاضر شوي وو، د لیکل شوي مطلب د حقانیت او واقعیت د ثبوت دپاره د مؤثقو اسنادو او شاهدانو د وړاندې کولو په ترڅ کې د خپلو خبرو په یوې برخې کې وویل چې «د لیک خپرول د افغانستان د دولت او ملت د ګټو په خاطر وو، نه د کومې شخصي عقدې او یا فردي ګټې په خاطر. د"پاسبان بیدار خواب" لیک مو د ملي او وطني وظیفې په اساس خپور کړیدئ...»

په هیواد کې د لومړنۍ مطبوعاتي محکمې د جوړیدو ددغه مضـــمون لیکونکې ســـعدالدین خان بها، هغه شاعر، لیکوال او مشروطه غوښتونکې وو چې په انګلستان کې یې انګلیسي ادبیات لوستي وو.

کله چې غازي امان الله خان د اروپا د سفر څخه راستون شو، نو ځینو کسانو کوښښ وکړ چې دا مضمون هغه ته وړاندې او د پاچا څخه د تکفیر حکم ترلاســـه کړي . خو غازی امان الله خان د تکفیر کاغذ ټوټې ټوټې کړ او ویې ویل « د اروپا د سفر په وخت په فرانسې کې یوه خبرنګار پر ما نیوکه وکړه او وویل چې ولې د افغانستان په نشراتو کې انتقاد نه لیدل کیږي؟ ستاسې په ټولنه کې انتقاد ته اجازه نشته، او که ستا استبداد د انتقاد کوونکو خوله تړلیده؟

ما چې د قناعت وړ ځواب نه درلود نو له بدې ورځې مې خصوصي خپرونو ته اشاره وکړه او وویل چې "امان افغان" یوه دولتي نشریه ده، او پر دولت انتقاد کولاې نشي ، تاسې لاړ شئ او شخصي جراید ولولئ ، او وګورئ چې مونږ انتقاد چاپوو او که نه؟

څه موده وروســـته هغه فرانســـوي خبرنګار زه ولیدم او دا ځل یې د انیس همدا ګڼه په لاس کې وه، او د "پاسبان بیدار خواب" مضمون یې د بیلګې په توګه راښکاره کړ. زه چې یو دیموکرات حاکم یم، او د مطبوعاتو پر آزادئ عقیده لرم، خپله قضاوت وکړئ چې ددغه سړي محکومول به د نسلونو په وړاندې زما محکومیدل نه وي؟

اوس چې د غلام محی الدین خان انیس او مرحوم سعدالدین خان بها یادونه وشوه، بده به نه وي چې د وینا د آزادۍ او ســـانســـور په اړوند د دوو نورو نمونو یادونه هم وکړو چې تر اماني دورې وروســـته په خانداني حکومت کې د مطبوعاتو د آزادئ څرنګوالې څرګندوي :

1. تر اماني دورې وروســـته د اماني دورې په هکله د ليکلو اجازه او امکانات نه وو. د اروابښـــاد محی الدين انيس د «بحران او نجات» کتاب چې په ۱۳۰۹ کال کې ليکل شوې وو، تر ځو ځل سانسور وروسته چاپ شو، خو د هغه د متن يوه ډېره زياته برخه هم د رښــتيا پر ځاې مصــلحتي وه. خپله انيس زندان ته واســتول شــو، د اخبار امتياز ترې واخيســتل شــو، او اخبار يې په دولتي اخبار بدل شــو. په زندان کې د سـل په مرض اخته شو، او د هاشم خان د صدارت په وخت کې تر مرګه په زندان کې وساتل شو، بيا يې مړی هم کورنۍ ته ورنکړ شــو، او په کوم پټ ځاې خاوروته وســپارل شــو. يو ځوې او يوه لور يې هم د مکتب او تعليم نه محرومه وساتل شول.
2. تر اماني دورې وروسته منورين تر ګواښ، تهديد، مراقبت، بند، شکنجې، اعدام او حتی د خپلو ټولې کورنۍ د ورکيدو سره مخامخ وو. خپرونې او د بيان آزادي نه وه. دوې به د حاکم رژيم او انګريزي استعمار د پاليسيو په وړاندې شفاهي تبليغاتو او شبنامو څخه کار اخيست . خاندانی واکدارانو به ددغه ډول آثارو ليکل څه چې لوستل هم ملي جنايت باله، او د زندان او کړاوونو او شکنجو سزا به يې ورکوله . سعدالدين خان بها[3] هم د يوه شعر د لوستلو له امله درې ځل په کوتکو ووهل شو، يو ځل ورته په تخرګونو کې د اوسپنې سرې شوې ګولۍ ونيول شوې، او ديارلس کاله په زندان کې واچول شو. [4]

(پای)

[3] . جلد دوم "برگی چند از نهفته های تاریخ در افغانستان"، ص ٤١٦.

[4] . غبار، میر غلام محمد (۱۹۹۹). افغانستان در مسیر تاریخ . دوم چاپ ، پشاور، ۱۳۳ مخ.